نظر محمد مطمئن ۲۰۱٤/۱۰/۰٤

# درنو هيوادوالو لوی اختر مو مبارک بنه




السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

ټولو درنو مشرانو، ملګرو، دوستانو او مؤمنو افغانانو ته د لوی اختر مبارکي وړاندي کوم. الله (ج) دي د اختر ورځې پر تاسي او ستاسي د کورنی په غړو په خوښې سره تيرې کړي.

الله (ج) دي موږ ته نور د خوشالۍ اخترونه نصيب کړي، نږدې ۷۰ داسي اخترونه افغان ولس تير کړل، چې ډيری کورنۍ د اختر په مبارکو ورځو کې د وير په ټغر ناست وی، دا اختر به هم ډيری داسي کورنۍ وي چې د کور غړې به يې له دوی سره داځل د اختر په خوشاليو کې نه وي، او د کور په نور غړو به يې وير پروت وي، ډيری ناوياني به دا اختر لاسونه نه سره کوي، خپل د ژوند شريک به يې د جنګ جګړې قرباني شوی وي، ډيری ميندي به داځل د اختر ورځ په چيغو بدرګه کړي، او ډيری پلرونه به تر خپلو سترګو اوښکې توی کړي.

يا الله موږ ته ارامي راولي، نور له موږ څخه پر موږ تپل شوي د پرديو جګړه ليري کړي، او نور موږ افغانان د بهرنيانو له غلامي او مخامخ مداخلې څخه ازاد او خلاص کړي.
په دي تمه چې دغه اوږده د وير اخترونه نور الله پر افغان ولس ختم کړي، هيواد راته ازاد او د خوشالۍ او خوښيو اخترونه مو نصيب کړي.

الله (ج) دي ټولو هغو کورنيو ته د زړه صبرجميل نصيب کړي، چې په دي اختر کې به ددوی د کور ځينې غړي ورسره نه وي. الله (ج) دي د افغان ولس د وينو قرباني قبوله کړي، او الله ج دي د حاجيانو حج او دعاوي د هيواد او مسلمان په حق کې قبولې کړي. مننه او درنښت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ